DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۶۵۲

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ل

لسم کال - دویمه دوره، ۶۵۲ مه ګڼه، پر له پسې ګڼه ۱۷۲۰ د ۱۳۸۸ ل ـ د لیندۍ ۱۸ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۰ هـ ق د ذي الحجه ۲۲ مه د ۲۰۰۹ د ډسمبر ۹ مه

PROPERTY OF ACKU

امریکایي ځواکونو ۱۵ عام وګړي ووژل

د لغمان د مهترلام ښار سلګونو اوسېدونکو پرون سهار د امریکایي ځواکونو لخوا د ۱۵ عامو وګړو د وژلو په غبرګون، قهرجن لاریون پیل کړ.

ځایي اوسېدونکي وایي، چې امریکایي ځواکونو ورمه شپه د مهترلام ښار اړوند، د ارمل په کلي کې عملیات کړي او د ښځو او ماشومانو په ګډون یې ۱۵ عام وګړي وژلي دي.

د مهترلام ښار د شاوخوا نژدې کلیو سلګونو اوسېدونکو د وژل شویو کسانو جنازې د ولایت مخې ته د احتجاج په توګه د لیندۍ پر ۱۷مه، د سهار پر نهو بجو را روانې کړې وې، خو کله چې ولایت ته نژدې شول، نو **۳مـــخ**

غرب راه را در افغانستان گم کرده است

وزیر امور خارجهٔ اسبق آلمان در مقاله یی با اشاره به وخامت اوضاع در افغانستان و قدرتمند شدن طالبان تاکید کرد، این طور به نظر می رسد که غرب راه خود را در افغانستان گم کرده است.

به گزارش خبرگزاری مهر نیوز، یوشکا فیشر وزیر امور خارجهٔ پیشین آلمان در مقاله یی که در روزنامهٔ "زوددویچه سایتونگ" به چاپ رسیده است، اظهار داشت: شرایط در افغانستان خوب به نظر نمی رسد. طالبان روز به روز از نظر سیاسی و نظامی قدرتمندتر می شود؛ کرزی نیز به مرور حمایت های مردمی و بین المللی را از دست می دهد.

وی افزود: در امریکا نیز، انزجار از جنگ افغانستان افزایش یافته و برای اعضای اروپایی ناتو نیز، عقب نشینی نظامیان، امروز بهتر از فردا است.

فیشر در ادامه با تاکید بر اینکه این طور به نظر می رسد که غرب راه خود را در افغانستان گم کرده است، این پرسش را مطرح کرد که: ناتو با چه هدفی در افغانستان مبارزه می کند؟

در ادامهٔ این مقاله آمده است: اروپا در برابر این پرسش سکوت می کند و تنها یک چیز را می خواهد و آن خروج است. در امریکا نیز چنین بحث هایی جریان دارد.

فیشر در ادامه با تاکید بر اینکه دلایل بحران های افغانستان را نباید تنها در داخل این کشور جستجو کرد، دلایل جنگ های متمادی در این کشور را در آن طرف مرزها، ارزیابی کرد.



وی در بخش دیگری از این مقاله استراتیژی فعلی غرب را در افغانستان با موفقیت بسیار محدود ارزیابی کرده و نوشت: با این استراتیژی، طالبان هر روز ص۳

برتانیا وایي:

سړکال مو ۱۰۰ تنه پوځیان وژل شوي دي

د افغانستان په جنوبي نارامه هلمند ولایت کې له طالبانو سره په نښته کې یو برېتانوی سرتېری وژل شوی. تېره شپه د برېتانیا دفاع وزارت اعلان وکړ، چې له ۲۰۰۱ کال راپدېخوا له دې وژل شوي سرتېري سره، په افغانستان کې د وژل شویو برېتانوي سرتېرو شمېر ۲۳۷ ته ورسېده.

په افغانستان کې د برېتانیا زیاتره پوځیان د سړک غاړې بمونو په چاودنو کې وژل شوي.

لومړي وزیر ګورډن براون او د برېتانوي پوځ مشر، په افغانستان کې د برېتانوي سرتېرو د وژل کېدو ویر ولمانځه.

دواړو د برېتانیا له ولسه وغوښتل چې له حوصلې کار واخلي.

ګورډن براون وویل: «مونږ نن په روان ۲۰۰۹ کال کې افغانستان کې د سلم برېتانوي سرتېري د وژلو ویر کوو.»

نومورې ټینګار وکړ، چې دوی هغه سرتېري چې د خپل هېواد له لورې په افغانستان کې جنګېږي، نه شي هېروالی او د دوی یاد باید ژوندی وساتل شي. **۳مـــخ**

اولین گروه عساکر تازه‌نفس امریکا هفتهٔ آینده وارد افغانستان می شوند

وزارت دفاع امریکا (پنتاگون) در راستای اجرای استراتیژی جدید اوباما در افغانستان از اعزام اولین گروه نیروهای تازه‌نفس امریکایی شامل ۱۵۰۰ نیروی نظامی به این منطقه طی یک هفتهٔ آینده خبر داد.

به گزارش خبرگزاری فرانسه، وزارت دفاع امریکا (پنتاگون) اعلام کرد: گروه جدید یک‌هزار و ۵۰۰ نفری نیروهای نظامی امریکا به عنوان بخشی از اولین اقدام برای اجرای استراتیژی واشنگتن در تقویت نیروهای نظامی مستقر در افغانستان، هفتهٔ آینده وارد جنوب این کشور خواهد شد. بنا بر بیانیهٔ منتشر شده توسط پنتاگون، حدود یک هزار و ۶۰۰ نفر از نظامیان امریکایی در خصوص احتمال اعزام به افغانستان در راستای اجرای استراتیژی جدید اوباما مطلع شده‌اند.

"برایان ویتمن" سخنگوی پنتاگون اعلام کرد: حدود یک هزار و ۵۰۰ نفر نیز قرار است، اواخر دسمبر (ماه جاری میلادی) به افغانستان اعزام شوند. همچنین به حدود ۶ هزار و ۲۰۰ نظامی دیگر اطلاع ص۳

دفاع از حقوق زن تنها در حرف نباشد

دیده بان حقوق بشر حکومت افغانستان را متهم می کند، در مورد کسانی که به زنان ظلم می کنند، فرهنگ بی مجازاتی را ترویج می کند، راشل رایدر، پژوهشگری که برای این سازمان در مورد افغانستان کار می کند، می گوید: "وضع زنان و دختران افغانستان، اسفناک است و احتمال دارد، در آینده بدتر شود."

با اشاره به اینکه حامد کرزی به کمک غرب به قدرت رسید و متعاقب انتخابات گذشته، که در آن تقلب وسیع صورت گرفت، با وجود حضور ۱۱۰،۰۰۰ سرباز خارجی، نیروهای مخالف به شدت به جنگ ادامه می دهند، این پژوهشگر اضافه می کند: "باید حتماً این موضوع تضمین شود که دفاع از حقوق زنان و دختران تنها در حرف نباشد، بلکه این مسأله باید یکی از اولویت های حکومت و تمویل کننده گان او باشد. در مورد جزییات مسایل مربوط به حقوق زنان، این سازمان می گوید: "زنان و دختران در بسیاری موارد، مورد خشونت و تبعیض قرار می گیرند و به محکمه و تعلیم و تربیه کمتر دسترسی دارند." و ص۳

ارمنستان هم عسکر تازه نفس به افغانستان می فرستد

پارلمان ارمنستان دیروز فرستادن ۴۰ سرباز تازه نفس این کشور را به افغانستان تصویب کرد.

وزیر دفاع ارمنستان در جلسهٔ دیروزی پارلمان این کشور تاکید کرد، این تصمیم جایگاه بین المللی ارمنستان و اعتماد به نیروهای مسلح این کشور را تقویت می کند.

سه افسر، یک داکتر وسربازان پیاده نظام ارمنستان در دلو ماه سال جاری به افغانستان فرستاده می شوند، تا ماموریت خود را تحت فرماندهی آلمانی ها آغاز کنند.

وظیفهٔ آنها محافظت از میدان هوایی نزدیک کندز است. کندز نزدیک مرز افغانستان و تاجیکستان قرار دارد.

ارمنستان با فرستادن ۴۶ عسکر به عراق، در فاصلهٔ سال های ۲۰۰۵ و ۲۰۰، در عملیات نظامی امریکا در این کشور، مشارکت کرد.

به گزارش خبرگزاری فرانسه از ورشو، امریکا پس از اعلام اعزام ۳۰ هزار نیروی تازه نفس به افغانستان، خواستار اعزام نیروی اضافی از سوی متعهدانش شد.

آلمان به قربانیان ولایت کندز افغانستان غرامت پرداخت می‌کند

در پی رسوایی های اخیر دربارهٔ حملات هوایی آلمان در افغانستان، دولت آلمان امکان پرداخت غرامت به قربانیان این واقعه را بررسی می‌کند.

به گزارش هفته نامهٔ آلمانی "اشپیگل"، پس از تایید این موضوع که بازمانده گان قربانیان حملات هوایی۴ سپتمبر به دو تانکر تیل که توسط طالبان ربوده شده بود، می‌توانند، در خواست غرامت کند، دولت آلمان اعلام کرد که این موضوع را بررسی خواهد کرد.

بر اساس این گزارش، یک سخنگوی وزارت دفاع که نامش فاش نشد گفت که مشوره ها با یک وکیل برای پرداخت غرامت به ۷۰ خانواده از بازمانده گان این حملات هوایی، ادامه دارد.

"کریم پوپل" وکیل آلمانی افغان تبار که پس از این حملات چندین بار به منطقه سفر کرده است، این موضوع را پیگیری می‌کند.

در جریان حملات یاد شده در ولایت کندز، ۱۴۲ تن از غیر نظامیان جان خود را از دست دادند و انتشار این خبر به همراه گزارش نیروهای ناتو، باعث شد که "فرانتس یوزف یونگ" وزیر خارجهٔ پیشین آلمان که در دولت کنونی وزیر کار بود و تنی چند از مقام های نظامی آلمان، از سمت خود استعفا دهند.

در همین حال، روزنامهٔ دیگری آلمانی "هانوفریشه الگیماینه تسایتونگ" دیروز از قول دوایر وزارت دفاع آلمان گزارش داده است که وزارت دفاع آلمان، مبلغ ۳ میلیون یورو را برای پرداختن جبران خسارت به قربانیان و بازمانده گان حادثهٔ حملهٔ هوایی یادشده اختصاص داده است.

رابرت گیتس وزیردفاع امریکا در کنفرانس خبری مشترک باحامد کرزی:

افزایش نیروهای خارجی منجر به افزایش تلفات ملکی خواهد شد

سپردن امنیت به نیروهای افغان، از سطح ولسوالی ها شروع و به سطح ولایات خواهد رسید

وزیر دفاع ایالات متحدهٔ امریکا در یک نشست خبری مشترک با حامد کرزی گفت که افزایش نیروهای خارجی منجر به افزایش تلفات ملکی خواهد شد؛ اما برای مصونیت افراد ملکی، حتا الوسع تلاش می شود.

رابرت گیتس دیروز در ارگ ریاست جمهوری گفت که طبق استراتیژی جدید اوباما، ۳۰ هزار سرباز جدید نیروهای امریکایی به افغانستان اعزام خواهد شد که شماری از آنان در چند روز آینده و متباقی، تا اواسط تابستان آینده به این کشور، خواهند رسید.

به گزارش خبرگزاری پژواک، گیتس گفت که در حال حاضر، تاکید آنان برای توانایی یافتن نیروهای امنیتی افغان می باشد.

گیتس، اظهار داشت که تامین امنیت در سال ۲۰۱۱، به شکل تدریجی به نیروهای ملی افغانستان سپرده خواهد شد و در جولای همین سال، به ص۳

موانع قانونی مبارزه با فساد

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

نوې کابینه، نوې فشارونه او د نویو معاملو شونتیاوې

د افغانستان پلازمېنه کابل پرون د دوو لوړو پوړو غربي چارواکو د ناڅاپي سفرونو شاهده وه. ۱۲ ساعته وروسته له هغه چې ولسي جرګې ته د کابینې د وړپڑندلو چاري وخنډېدې، د امریکا دفاع وزیر رابرت ګېټس او ورپسې د برېتانیا دفاع وزیر باب اینزورث کابل ته ورسېدل. باید ووایو، چې د افغانستان لپاره د ولسمشر بارک اوباما د نوې ستراتېژۍ تر اعلانېدو وروسته، دا د دغو غربي لوړو پوړو چارواکو لومړي سفرونه دي، چې افغانستان ته ترسره کېږي.

دا چې افغانستان ته د دې لوړو پوړو چارواکو ناڅاپي سفرونه د کومو موخو لپاره ترسره شوي، ظاهراً ویل کېږي، تر هغو ګنګوسو وروسته چې ویل کېدل، امریکا او نړیواله ټولنه یو واړ بیا افغانستان ته شا کوي. امریکایان او برېتانیایان غواړي چې په دې هېواد کې د خپل شتون او د خپلو ژمنو د ترسره کولو په اړه، افغان دولت تهډاډ ورکړي او دغه سفرونه په همدې خاطر ترسره کېږي.

رابرټ ګېټس هم کابل ته د تګ پرمهال په الوتکه کې خبریالانو ته ویلي چې: «غواړو له ولسمشر حامد کرزي او دفاع وزیر عبدالرحیم وردګ سره د اوباما د پرېکړې او د هغې د پلي کېدو په اړه خبرې وکړو.»

له بلې خوا ویل کېږي، په داسې حال کې چې د افغانستان د نوي حکومت کابینه په پوره ناټلونکو ورځو کې معرفي شي، ګېټس ژمنه کړې، له افغان ولسمشر سره د خپلې کتنې په ترڅ کې به په راتلونکې کابینه کې د کاري او ژبنیتو وزیرانو پر پاتې کېدو ټینګار وکړي.

په هر صورت، تر دې دمه پدېدې اړه سفرونه پر ولسمشر کرزي د هغو بهرنیو فشارونو په بهیر کې ترسره کېږي، چې د راتلونکې کابینې د وزیرانو د معرفي په برخه کې، پر ده لا دوام لري. لوېدیځ په ځانګړې توګه امریکا غواړي، چې د افغانستان په نوې کابینه کې ژور بدلونونه رامنځته شي او هغه کسان چې پر فساد او اختلاس تورن دي، د افغانستان د واک او قدرت له چارچاپېر څخه لرې او پر ځای یې وړ، کارپوه او د فساد له رنګ څخه سپین کسان ودروي. په همدې حال، ویل کېږي، چې ګن شمېر بهرني هېوادونه، چې د مرګې په افغانستان کې سرتېرې لري او له افغان دولت سره مرسته کوي، هر یو د افغانستان په کابینه کې، د خپلو مشخصو کسانو لپاره خای او خوکې غواړي او د کارپوهانو په باور، د کابېنې د معرفۍ د څنډېدو یو لامل هم همدا مسئله ده، چې هره ګړۍ پر ولسمشر کرزي په کابینه کې د نومونو د دلون بدلون توپان راولي.

دا چې ولسمشر کرزي د دغو بهرنیو او د خپل انتخاباتي ټیم د فشارونو تر منځ، چې له ده سره یې د ولسمشر کېدو په چارو کې د ډېرە مرسته او مټې ترڅې کړې، څرنګه عمل کوي او څرنګه به وتوانېږي، یوه سالمه، کاري او صادقه کابینه وړاندې کړي، دا مغه پوښتنه ده، چې اوسمهال د ولسمشر لپاره تر ټولو ستره ننګونه بلل کېږي. و به ګورو چې ولسمشر له دغه ارزمویښت او ننګونو څنګه تېریږي، آیا نومورې به د دغو سیاسي لوبو په اړه د دوړو کې خپلو ملي ګټو ته زمن پاتې کېږي، که بیا هم د خپلو تېرو دورو په شان ناویلو او ناوړو مصلحتونو ته د تسلیمۍ سر ټیټوي.

توسعهٔ کشت و تجارت مواد مخدر در افغانستان معلول چه عواملی است

پنجشیری

کشت، تولید و قاچاق موادمخدر امروزه به یکی از مهمترین چالش و تهدید در سطح جهانی مبدل گردیده است؛ زیرا تبعات ناگواری ناشی از تولید و تجارت این مادهٔ افیونی و کشنده به رغم آنکه پیشرفت در زمینهٔ اقتصادی کشورها را به چالش می گیرد، همچنان سلامت جامعه را آسیب پذیرساخته و انسان ها را به کام مرگ و نیستی می کشاند؛ از این رو، تلاش ها همواره برآن است، تا با

موانع قانونی مبارزه با فساد

نگارنده: دکتوراندس م. نبی هیکل

مردم به دلیل تجارب تلخ تاریخی به روند مبارزه برضد فساد، به دیدهٔ شک و تردید می نگرند. این شک و تردید نمی تواند، بدون اساس عینی و منطقی باشد. گذشته از تجارب تلخ تاریخی فساد و مبارزات ناکام برضد آن، بخصوص در سال هایی که گذشت، دلایل دیگری نیز برای عدم اعتماد و ناباوری وجود دارد. فاصلهٔ زمانی پس از انتخابات ریاست جمهوری تا کنون نشانه یی به جز از حرافی نتوانسته، به مردم نشان دهد، تا احساس باور را در میان مردم، به وجود آورد.

دلیل اول، ناباوری سیاسی در تاریخ افغانستان به معنای گذشته های دور قرار دارد. دلیل دومی را باید در گذشته های نزدیک جستجو نمود. بدون هر نوع شک و تردید می توان گفت که مبارزه برضد فساد که نه تنها در ایلیت سیاسی و دستگاه بیروکراسی، بلکه در سازمان ها و ساختارهای غیرافغانی نیز وجود دارد، در سایهٔ تجارب هشت سال گذشته قرار خواهد داشت. زیرا از لحاظ منطقی و علمی می توان هرنوع تغییر را نه در پارادگم، بلکه در ابزار سیاسی، انستیتوت ها و روابط میان عامه و خصوصی می توان توقع داشت. نشانه هایی تا کنون وجود ندارد که چنین تغییرات را به جامعهٔ افغانی مژده دهد. گذشته از فقدان نشانه های متقاعد کننده در رابطه به موجودیت اراده و تعهد، سوال توانایی مبارزه با فساد نیز بی جواب باقی می ماند. آیا حکومت آینده توانایی مبارزه با فساد را خواهد داشت؟ آیا استراتیژی مشخصی (به غیر از ریتوریک در مراسم تحلیف) در این رابطه وجود دارد؟ تعویق مبارزه با فساد تا تشکیل کابینهٔ جدید این احساس را به وجود می آورد که با این کابینه، نمی شود با فساد رزمید. مگر این حقیقت دارد که مبارزه با فساد را افرادی می توانند آغاز نمایند و به جلو برند که فاسد نیستند و در این راه با شهامت و فداکاری گام برمی دارند. کار مبارزه با فساد کار ساده نیست، نه تنها به این دلیل که فساد در کشورنهادینه و رسمی شده، بلکه به اساسات قدرت نظامی، اقتصادی و اجتماعی در کشور بستگی دارد.

دو مانع عمدهٔ دیگری در راه مبارزه با فساد قرار دارد. این دو مانع با قانون و با خردگرایی در مبارزه بافساد، ارتباط دارد.

این امکان وجود دارد که از قانون برای تبرئهٔ فساد یا مفسد استفاده صورت گیرد. شیوهٔ استفاده از قانون می تواند، به اشکال تعبیر قانون واستفادهٔ ابزاری از قانون صورت گیرد. یک مثال استفاده از قانون عبارت از استفاده از اصل بری ذمه بودن به حیث حالت اصلی و طبیعی شخص می باشد؛ در حالتی که شخص به انجام یا دست داشتن در این یا آن جرم متهم می باشد. کاربرد این اصل در مسایل سیاسی به حیث یک اصل عملی بر شهرت و اعتماد مردم یا تصویر موجود از فرد استوار می گردد و بر اساس همین اصل، استراتیژی بعدی برخورد با فرد تعیین می گردد.

موضوع بعدی قابل بحث به تعیین ارزش محکمهٔ مردمی و محکمهٔ رسمی حکومتی می باشد. محاکم حکومتی در اشکال محاکم سه گانه تبارز می کند؛ در حالی که محاکم مردمی از جمله دراشکال انتخابات، افکار عامه، محاکم صحرایی و قضاوت اجتماعی تبارز می نماید. این بحث به صورت کوتاه با این اصل می رسد که ارزش های اجتماعی و فرهنگی در هر جامعه، عمدتاً از ارزش های اعتقادی و مذهبی متأثر می گردد و قانون عبارت از نورم ها و معیارهایی است که بادرنظرداشت این ارزش ها تهیه و تصویب می گردد. به این ترتیب، ادعای بری الذمه بودن فردی که اتهام بر وی، اساس مشهود و عینی دارد، صدق نمی نماید. فرد می تواند، بر اساس اتهام مشهود مورد تعقیب قرار داده شود. دشواری اساسی بعدی در استقلال و قضاوت فارغ از تعصب در تعبیر و کاربرد قانون و تطبیق آن می باشد. پروسهٔ تعقیب عدلی افراد متهم، تثبیت جرم و تطبیق قانون تنها در شرایطی می تواند، به تطبیق عدالت منتهی گردد که شرایط ضروری و سازندهٔ اعتماد وجود داشته باشد.

ما در آستانهٔ اعلام حکومت جدید قرار داریم و رییس جمهور با مکلفیت معرفی افرادی رو به رو است که بر حسب بیانیهٔ وی در مراسم تحلیف باید با تقوا، متخصص و خدمتگار مردم باشند. این سوال که رییس جمهور کشور چگونه خواهد توانست، در کشاکش میان نیاز ملی و توقعات متحدان بین المللی از یکسو و توقعات شرکای ایتلاف دوران انتخابات از سوی دیگر، به گزینش چنین افراد (با تقوا، متخصص و خدمتگار مردم) دست یابد؟

این افرد تنها می تواند، از راه ها و کانال هایی معرفی گردند که از پیش شناخته شده اند. این کانال ها عبارت اند از کانال هایی که به بیرون از کشور منتهی می شود، کانال هایی قدرت که ایلیت سیاسی را به ایلیت های نظامی، اقتصادی و اجتماعی وصل می نماید، و پایه های ایتلاف انتخاباتی. یک وظیفهٔ اساسی در برابر همهٔ این کانال ها در رابطه به معرفی افراد برای کرسی های رهبری قراردارد: معرفی افراد باتقوا، متخصص و خدمتگزار مردم. درحالی که استفاده از منابع کانال های متذکره در سال هایی که سپری گردید، نخواهد توانست، به کسب باور و اعتماد مردم و ایجاد یک حکومت سالم منتهی گردد، این امکان وجود دارد، تا دستهٔ جدید وابسته به ایلیت های تجربه شده در هشت سال گذشته وارد میدان سیاست ملی گردند. این افراد تنها از لحاظ وابستگی و تجربهٔ کاری می توانند، مورد سوال قرار داده شوند و می توانند، متخصص باشند. چگونه می توان متقی بودن و خدمتگار بودن فرد را تثبیت نمود، مگر اینکه آنان را نخست در مقام رهبری بیازمایم؟ چگونه و به وسیلهٔ کدام میکانیزم و طرزالعمل می توان به انتخاب این افراد پرداخت؟ آخرین بندر کنترول تقوا، تخصص و خدمتگزاری افراد در پارلمان قرارداد؛ مرجعی که بیشتر سال های عمرش را در خدمت ایلیت سیاسی وقف نموده و همچنانی که دیگ نمی تواند بر دیگدان بخندد، بر فساد در حکومت نمی تواند، بخندد. برای اطمینان خاطر مردم و نماینده گان واقعی مردم در پارلمان افغانستان، اعضای کابینه را باید فرصت داد، تا از فلتر اجتماعی (افکار عامه) بگذرند. بحث پارلمان باید علنی و بادرنظرداشت نظریات، معلومات و خواست های مردم انجام گردد و با نامزدان مقام های دولتی در زمینه های نظریات مردم، تقوا، تخصص و مقام هایی که مسوولیت آنها را بر عهده خواهند گرفت باید مصاحبه صورت گیرد. این افراد باید از مشکلات مردم، بخصوص مشکلات اداراتی باخبر باشند که مسوولیت رهبری آنها را بر دوش می گیرند و باید دارای دید تخصصی در مورد انکشاف، بهبود و راه های حل دشواری های مربوط باشند. ما باید از وزیران مشاوردار بخصوص وزیرانی که برای گفتن به سخنگو نیاز دارند، به افرادی گذار نماییم که توانایی رهبری اداره های مربوط را دارا اند. این میکانیزم را می توان در سایر موارد مورد استفاده قرارداد.

شناسایی منابع تولید و تمویل این پدیدهٔ مرگبار، تهدیدات و خطرات حاصل از آن را مهار نموده و زمینه های دستیابی به آن را به حداقل برساند. با این وجود، هرچند که راهکارهای مبنی بر موقف ساختن تجارت مواد مخدر در سطح جهانی عملی و فشارهایی نیز بر تولید کننده گان آن اعمال گردیده، اما نه تنها موفقیت لازم از آن به دست نیامده، بلکه زمینه های تجارت وتولید آن به حد اکثر خود نیز رسیده است.

عواملی که در رشد و توسعه تجارت تریاک در سطح جهان نقش دارد، متعدد بوده که این عوامل اغلبا در بستر شرایط جنگ و بدامنی موثرتر عمل می نماید؛ اکثرا کشورهای در حال جنگ، دامنهٔ این تجارت را گسترش داده است؛ زیرا وضعیت نابسامان این کشورها، از یکطرف زمینهٔ خوبی را برای تداوم فعالیت های مافیایی بین المللی قاچاق مواد مخدر مساعد گردانده و از جانب دیگر، عوامل جنگ افروز بیرونی در همدستی با عوامل داخلی، به هدف تامین هزینهٔ جنگ شان از کشت و تولید آن حمایت می نمایند. لهذا کشورهایی که ناامنی و بی ثباتی در آن به عنوان نخستین چالش به حساب می آید؛ کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر به عنوان چالش مضاعف تلقی می گردد؛ زیرا مسلم ص ۳

توسعهٔ کشت و تجارت مواد مخدر ...

است که گسترش تجارت مواد مخدر در واقع، معلول افزایش میزان جنگ و ناامنی در کشور می باشد که آسیب ها و زیان های جدی را در خصوص تامین امنیت و ثبات سیاسی- اجتماعی آن وارد ساخته است. در این میان، افغانستان کشوری است که علی رغم آنکه از امنیت و ثبات قابل اعتباری برخوردار نیست، همچنان بلندترین گراف کشت و تولید کوکنار را در سطح جهان دارا بوده و به همین گونه، این سرزمین از رهگذر فعالیت های تروریستی و نقش عمال بیگانه در کار گسترش روند تولید و تجارت تریاک به بزرگترین کشتگاه کوکنار در سطح منطقه و جهان مبدل گردیده است که به این ترتیب، سالانه مقدار زیادی از موادکشندهٔ مخدر، ذریعه باندها و مافیای بین المللی به خارج از کشور قاچاق می گردد و اما آنچه مسلم است، اینکه پیامدهای شوم ناشی از تولید و تجارت پدیدهٔ زهراگین مخدر، بیشتر انکشاف اقتصادی کشور خود ما را آسیب پذیر ساخته و روند روبه رشد آن، نگرانی های بزرگی را برای مردم و دولت ما به وجود آورده است. با این حال، تلاش های پیوستهٔ بین المللی و اعمال سیاست ها و برنامه های دولت افغانستان، طی حداقل دو سال اخیر موفقیت هایی را در زمینهٔ کاهش کشتزارهای مواد مخدر در پی داشته که بر اساس آن، امروزه برخی از قسمت های عمدهٔ کشور، از کشت کوکنار عاری گردیده است.

و اما تداوم تولید و قاچاق این پدیدهٔ افیونی در افغانستان بیانگر آن است که عوامل مقتدر بیرونی و جنگ طالبان داخلی در تبانی و سازش با هم، در راستای توسعه و انکشاف زرع و تجارت مواد مخدر در کشور، نقش بسزایی داشته و مافیای جهانی به هدف دستیابی به سود و منفعت حاصل از تجارت مواد مخدر، از کشت و زرع آن در افغانستان حمایت نموده و می نمایند، که این تلاش ها درواقع، راهبردهای دولت ما را مبنی بر متوقف ساختن تولید و از بین بردن کشتزار های این پدیدهٔ مهلک، با مشکل مواجه ساخته است.

رویهمرفته می توان اذعان کرد که فعالیت هراس افکنانهٔ تروریستان و مشارکت جنگ سازان خارجی در امر بی ثبات ساختن کشور ما و حمایت آن ها از کشت خشخاش و همچنان دخالت مستقیم مافیای بین المللی از جمله مسایلی است که روند موفقیت مبارزه با مواد مخدر را به چالش گرفته است، زیرا جنگجویان طالب و القاعده و حامیان بیرونی آنها، با فهم بر اینکه از طریق حمایت از کشت و تولید مواد مخدر بهتر و خوبتر می توان به تامین هزینهٔ جنگ شان پرداخت، موجب افزایش میزان تجارت و قاچاق آن گردیده و از جانب دیگر، مافیای بین المللی تجارت مواد مخدر به دلیل سودآور بودن تجارت تریاک که سالانه عاید قابل ملاحظه یی را از رهگذر قاچاق آن نصیب می گردند، نقش بارزی در این راستا داشته و باعث گسترش روزافزون زرع و فروش مواد مخدر گردیده اند.

افزون بر این، زارعانی که به کشت این مادهٔ مرگبار می پردازند، ظاهرا تحت نام تامین مایحتاج زنده گی شان و نبود اشتغال و منبع مناسب درامد دیگر بر ادامهٔ کشت تریاک اصرار می نمایند، اما بی خبر از آنکه، اثرات مرگ آور ناشی از آن بیش از پیش خود ما را آسیب پذیر ساخته و موجب گرفتاری جوانان در دام مهلک و کشندهٔ اعتیاد می گردد؛ چنانکه امروز در سطح کشور بر اثر مصرف مواد مخدر، تعداد قابل ملاحظه یی از جوان در برزخ مرگ و زنده گی به سر می برند و برای تامین مصارف تهیه و خرید آن، به اعمال غیرمشروع و غیرقانونی متوسل می شوند. از اینرو، مبارزه با مواد مخدر و جلوگیری از زرع و فروش آن در افغانستان، کاری نیست که تنها دولت ازعهدهٔ آن برآید، بلکه نیازمند راهکارهای جدی و موثر دیگری از قبیل صداقت جامعهٔ جهانی و هماهنگی افکار عامه در جهت نابودی و دوری از کشت کوکنار می باشد، و بردولت است، تا با برنامه های موثر و کارساز، عواقب و پیامدهای شوم آن را برای دهقانان و زارعان مواد مخدر تفهیم نموده و جلو دخالت مافیا و باندهای مخوف بین المللی را بگیرد. هکذا برمردم ماست که با توجه به اینکه، حداکثر سود حاصل از کشت خشخاش سالانه به کام مافیایی بین المللی رفته و متباقی نیز برای یاری رساندن مالی و تامین تجهیزات نظامی تروریستان برای افزایش ناامنی ها وبی ثبات ساختن کشور ما به کار می رود و با درک اینکه پیامد ناشی از کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر جز تباهی و نیستی انسان های دیگر، سودی درپی ندارد، دست از زرع آن برداشته و در راستای ایجاد کشتزارهای سالم در کشور تلاش نمایند.

سړ کال مو ۱۰۰ تنه پوځیان ...

د برېتانیا د حکومت د مخالف ګوند مشر ډېوېډ کامرون، چې وړاندې د افغانستان هلمند ولایت ته تللی، تر ستنېدو وروسته ویلي. افغانستان اوس په یوه حساس پړاو کې دی بل خوا د برېتانیا لوی درستیز جنرال ډېوېډ ریچارډ ویلي که څه هم په افغانستان کې د برېتانوي سرتېرو تلفات زیات شوي، خو هلته د کامیابی تمه شته، چې په وینا یې د دغه وروستي پوځي په وژل کېدو د دوی د بریالیتوب عزم لا پیاوړی کېږي.

د بي بي سي د رپوټ له مخې، روان کال افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو. په تېره بیا د برېتانویانو لپاره تر ټولو خونړی و. برېتانیا ویلي پر ۱۹۸۲ کال له ارجنټاین سره د فوکلینډ ترجګړې وروسته سړ کال برېتانیا ته ډېر خونړی وتېره اونۍ د برېتانیا لومړي وزیر ګورډن براون افغانستان ته د ۵۰۰ نورو سرتېرو د لېږلو اعلان وکړ.

له دې سره به په افغانستان کې د مېشتو برېتانوي سرتېرو شمېر ۱۰۰۰۰ زرو ته لوړ شي.

برېتانیا په افغانستان کې تر امریکا وروسته دویم هېواد دی، چې زیات پوځیان یې له وسله والو سره پر جګړه بوخت دي. په افغانستان کې دا مهال تر ځلوېښتو ډېر هېوادونه سرتېري لري، تر امریکا او برېتانیا وروسته په دغه هېواد کې جرمني، فرانسه او کانادا زیات سرتېري لري. جنوبي کوریا هم غواړي چې راتلونکی کال افغانستان ته پر ودانیزو انجنیرانو سربېره ۳۵۰ سرتېري ولېږي، خو لاهم دا پرېکړه د پارلمان تصویب ته انتظار وباسي. له ۲۰۰۱ کال راپدېخوا په افغانستان کې د امریکا ۹۳۱ سرتېري وژل شوي، په داسې حال کې چې د نورو هېوادونو د وژل شوو سرتېرو شمېر ۳۲۷ دی.

په افغانستان کې د...

لاس پوځي حکومت، د هند د حکومت سره د مقابلې لپاره جوړ کړي.

د نومبر د میاشتې پر ۲۳ نېټه پر کال ۲۰۰۹ میلادي د هند د صدرعظم من موهن سنګ سفر د امریکې متحده ایالاتو ته او د افغانستان د جګړې په هکله د امریکې له چارواکو سره د خبرو لپاره او په هغه مطبوعاتي وینا کې، چې له ده نه پوښتنه وشوه، چې ستاسو په نظر امریکایي ځواکونه په افغانستان کې و او سېرې او که نه، له دغه هېواد څخه امریکایي ځواکونه وایستل شي؟ نو من موهن سنګ د دغه خبریال په ځواب کې وویل، چې بهتره به وي امریکایي ځواکونه په افغانستان کې تر ډېره مودې پاتې شي، ځو پاکستان ونشي کولای د امریکې د ځواکونو په نشتون سره په افغانستان کې د خپلې خوښې حکومت جوړ کړي، چې دا په خپله یو ښکاره بېلګه ده. چې هند غواړي دا جګړه توره هم اوږده شي او هندوستان له بنسټپالو تروریستانو نه په بشپړ توګه په امان کې وي.

له بلې خوا کېدای شي، چې د غه ورانکاري سبا ورځ د پاکستان سیاسي ثبات ته هم ستونزې پیدا کړي او پاکستان پر بېلو بېلو برخو وېشل شي او د پاکستان اتومي سلاحګانې له خطر سره مخامخ شي، چې دا خپله که و ګورو، د هند لپاره ډېره ارزانه او پرته له کوم تاوان او مصرفه یوه ګټونکې جګړه ده.

لنډه داچې نن افغانستان د هند او پاکستان د ګټو د جګړو په میدان بدل شوی او د واړه هېوادونه غواړي خپلې ګټې د افغانستان په جګړه کې و لټوي

غرب راه را در افغانستان...

بیشتر از روز پیش، قدرتمندتر می شود.

این مقام اسبق آلمان بر ضرورت ایجاد شرایط پایداری در افغانستان و جلوگیری از تبدیل شدن این کشور به صحنهٔ نبرد علایق منطقه یی و پایگاهی برای القاعده تاکید کرد و اظهار داشت، این هدف بدون حضور نظامی کافی و بهبود و تقویت اقدامات بازسازی در این کشور قابل دستیابی نیست.

افغانستان کې د انټرنېټ بیه...

بنه او بېې راتېټې کړې. بناغلي سنګین په هېواد کې د اوسنیو انټرنېټي خدمتونو د بیو کمول هم اعلان کړل. ده دغوشبکوله ټینلولو سره موږ د مرغومې له لومړۍ نېټې څخه د انټرنېټ د یو ساعت د خدمتونو بیه، چې شپېته افغانۍ وه، لسو افغانیو ته راټېټه کړه او که څوک تر ې میاشتنی کار اخلي، د یوې میاشتې بیه یې زر افغانۍ ده. هیله ده دا بیې نورې هم لږې شي.

د مخابراتو د وزارت د معلومانو له مخې، د نورې فایبر د شبکې پر لومړۍ فیزکابو اویا او پر دویم هغه یې شل مېلیونه ډالر لګېدلي دي او پر درېیم یې، چې کار پرې روان دی، د هېواد ټولو ولایتونو ته به نورې فایبر ورسېږي، خو خلک اوس هم د دې شبکو له خدمتونو او د بېو له لوړوالي شکایت کوي. هېوادوال له نورو وزارتونو څخه هم هیله لري، چې د مخابراتو وزارت په ځېر، دوی هم په خپلو اړوندو چارو کې هېوادوالو ته اسانتیاوې برابرې کړي، څو هېوادوال یې د خپلو خادمانو په توګه وپېژني، نه دا چې سبا یې ټول هېوادوال د خاینینو په نامه وپېژني. د هېواد د ارامۍ او ابادۍ لپاره د ټولو چارواکو د پاملرنې په هیله

امریکایي ځواکونو...

د ملي اردو د ځواکونو لخوا پرې هوایي ډزې پیل شوې

عیني شاهدان وایي، چې د ملي اردو په ډزو کې یو تن وژل شوی او یو بل ماشوم سخت ټپي شوی دی.

په ختیځو ولایتونو کې د شمشاد تلویزیون خبریال طاهر ساپي وویل، چې دی او کمره مین یې هم د ملي اردو ځواکونو لخوا وهل شوي دي. د پژواک خبري اژانس د رپوټ له مخې، د رحیم الله په نامه یوه تن وویل، چې امریکایي ځواکونو پر ببلا ببلو کورونو د شپې لخوا عملیات وکړل او عام وګړي یې ووژل. هغه زیاته کړه چې په وژل شویو کسانو کې د لغمان د رادیو تلویزیون پخوانی خبریال احسان الله شهیدزوی هم شامل دی. د لغمان امنیه قوماندان مل پاسوال عبدالکریم عمریار وویل، چې د امریکایي ځواکونو په عملیاتو کې ګڼ شمېر کسان وژل شوي، چې ډېری یې وسلوال طالبان دي.

نومورې وویل چې په دې اړه پلټنې پیل شوې دي.

افزایش نیروهای خارجی منجر...

نیروهای امریکایی کاهش داده خواهد شد.

وی گفت که سپردن امنیت به نیروهای افغان، از سطح ولسوالی ها شروع و به سطح ولایات خواهد رسید. گیتس بیان داشت که در خصوص چالش ها در برابر افزایش اردوی ملی؛ با حامد کرزی بحث و گفتگو نمو ده است. وزیر دفاع امریکا، در جواب این سوال آژانس خبری پژواک که به منظور مصونیت مردم ملکی سخن از هماهنگی بین نیروهای داخلی و امریکایی زده می شود؛ اما شب گذشته در بمباردمان نیروهای امر یکایی در یک منطقهٔ مرکزی لغمان، ۱۵ فرد ملکی کشته شده است، جواب مشخص نداد؟ اما گفت که روابط بین نیروها خوب است و آرزو دارد، عملیات تحت قوماندهٔ نیروهای اردوی ملی انجام و نیروهای خارجی نقش حمایوی داشته باشند. وزیر دفاع امریکا با اشاره به اینکه بعد ا زسال ۲۰۱۱، امنیت به نیروهای ملی سپرده و تعداد سربازان شان کاهش خواهند یافت؛ گفت که همکاری آنها ادامه دار د. وی افزود: ((ما هیچگاه افغانستان را تنها نخواهیم گذاشت.)) وزیر دفاع امریکا، همچنان گفت که شرایط بر تعیین چوکات زمانی، برای سپردن امنیت به نیروهای اردوی ملی تاثیر گذار می باشد

اولین گروه عساکر تازه‌نفس...

داده شده است که احتمالا در بهار آینده به منطقه اعزام می‌شوند. هفتهٔ گذشته "بارک اوباما" رییس‌جمهور امریکا تصمیم نهایی خود را در خصوص اعزام ۳۰ هزار نیروی بیشتر به افغانستان اعلام کرد و ماه جولای ۲۰۱۱ را به عنوان زمان مقرر برای آغاز خروج نظامیان امریکایی از این منطقه مطرح کرد.

دفاع از حقوق زن تنها...

اضافه می کند که حکومت هنوز هم قاتلان زنان را دستگیر نکرده است، قاتلینی که موقعیت مهم در امورات دارند و به این ترتیب، فرهنگ بی مجازاتی را ترویج کرده است.

در تحقیقات این سازمان روی چند مورد مشخص تاکید شده است: حملات به زنانی که در امور سیاسی سهم می گیرند، خشونت بر علیه زنان به صورت عموم، ازدواج اطفال، عدم دسترسی به محاکم و عدالت و عدم دسترسی دختران به دورهٔ بالای درس در مکاتب. به گزارش رادیو فرانسه، در نتیجه این سازمان می گوید، در حالی که اوضاع زنده گی زنان و دختران در دوران طالبان دلیلی برای توجیه اشغال افغانستان توسط نیروهای بین المللی بود، بادرنظر داشت تحکیم نیروهای شورشی، حضور بنیادگرایان در داخل حکومت و احتمال کنار آمدن حکومت با شورشیان، آن چیزی را که زنان و دختران افغانستان از سال ۲۰۰۱ تا امروز به دست آورده اند، در خطر فروپاشی قرار دارد.

د آی اېس آی پر یوه دفتر ځانمرګي بریدتر ۵۰ زیات کسان مړه او زوبل کړل



د پاکستان په ملتان ښار کې پرون غرمه د استخباراتي اداري (آی اېس آی) پر یوه مرکز ځانمرګي برید وشو او ۱۲ تنه یې ووژل.

دغه ځانمرګي برید پرون د لیندۍ پر ۱۷مه، د پنجاب ایالت د ملتان ښار د مرکز اړونده، د قاسم بېلې په سیمه کې دغرمې په ځایې وقت دوو لسو بجو وشو.

د ملتان د پولیسو مشر عارف اکرام د پېښې په ځای کې خبریالانو ته وویل، چې ځانمرګي برید د یوه موټر په وسیله ترسره شوی دی.

هغه زیاته کړه چې د چاودنې له امله نژدې نور کورونه او دفترونه هم نړېدلي او د دې وېره شته، چې کېدای شي، ډېر خلک تر دغو کورونو لاندې شوي وي.

د یادونې ده چې له تېرې شپې راهیسې دا درېیم ځانمرګي برید دی، چې په پنجاب ایالت کې ترسره کېږي.

تېره شپه د دغه ایالت په مرکز لاهور ښار کې په دوو ځانمرګو بریدونو کې ۵۰ تنه مړه او تر ۱۰۰ زیات کسان ټپیان شول.

وروسته تر هغه چې د پاکستان د پوځ لخوا په سوېلي وزیرستان کې د ځایې وسلوالو طالبانو پر ضد عملیات پیل شول، وسلوالو طالبانو په ښاري سیمو کې پر دولتي، نظامي او عامو وګړو د بریدونو لړۍ پیل کړې ده.

د پاکستان په ملتان ښار کې پرون غرمه د استخباراتي اداري (آی اېس آی) پر یوه مرکز ځانمرګي برید وشو او ۱۲ تنه یې ووژل.

دغه ځانمرګي برید پرون د لیندۍ پر ۱۷مه، د پنجاب ایالت د ملتان ښار د مرکز اړونده، د قاسم بېلې په سیمه کې دغرمې په ځایې وقت دوو لسو بجو وشو.

د ملتان د پولیسو مشر عارف اکرام د پېښې په ځای کې خبریالانو ته وویل، چې ځانمرګي برید د یوه موټر په وسیله ترسره شوی دی.

هغه زیاته کړه چې د چاودنې له امله نژدې نور کورونه او دفترونه هم نړېدلي او د دې وېره شته، چې کېدای شي، ډېر خلک تر دغو کورونو لاندې شوي وي.

د یادونې ده چې له تېرې شپې راهیسې دا درېیم ځانمرګي برید دی، چې په پنجاب ایالت کې ترسره کېږي.

تېره شپه د دغه ایالت په مرکز لاهور ښار کې په دوو ځانمرګو بریدونو کې ۵۰ تنه مړه او تر ۱۰۰ زیات کسان ټپیان شول.

وروسته تر هغه چې د پاکستان د پوځ لخوا په سوېلي وزیرستان کې د ځایې وسلوالو طالبانو پر ضد عملیات پیل شول، وسلوالو طالبانو په ښاري سیمو کې پر دولتي، نظامي او عامو وګړو د بریدونو لړۍ پیل کړې ده.

د پژواک د رپوټ له مخې، په سیمه کې د مرسته کوونکې اضطراري اداري یو کارکرونکی ډاکټر کلیم وایي، چې د پېښې په ځای کې د ۱۲ کسانو مړي موندل شوي او اوس هم تر خاورو لاندې نور کسان پراته دي.

د هغه په وینا، په وژل شویو کسانو کې ځلور امنیتي سرتېري او اته تنه عام وګړي دي. دې وایي چې په مشرو او هم شامل دي

د سیمې یوه تن اوسېدونکي ملک سرفراز احمد وویل، چې ځانمرګي برید د پاکستان استخباراتي اداري (آی اېس آی) ودانۍ مخې ته پر یوه امنیتي پوسته ترې وړی دی.

هغه زیاته کړه چې د چاودنې غږ تر څو کیلو مترو لرې سیمو پورې اورېدل شوی او د آی اېس آی ودانۍ هم ویجاړه شوې ده.

سرفراز وایي چې د چاودنې له امله نژدې نور کورونه او دفترونه هم نړېدلي او د دې وېره شته، چې کېدای شي، ډېر خلک تر دغو کورونو لاندې شوي وي.

د یادونې ده چې له تېرې شپې راهیسې دا درېیم ځانمرګي برید دی، چې په پنجاب ایالت کې ترسره کېږي.

تېره شپه د دغه ایالت په مرکز لاهور ښار کې په دوو ځانمرګو بریدونو کې ۵۰ تنه مړه او تر ۱۰۰ زیات کسان ټپیان شول.

وروسته تر هغه چې د پاکستان د پوځ لخوا په سوېلي وزیرستان کې د ځایې وسلوالو طالبانو پر ضد عملیات پیل شول، وسلوالو طالبانو په ښاري سیمو کې پر دولتي، نظامي او عامو وګړو د بریدونو لړۍ پیل کړې ده.

د ملي اردو د روزنې ۶ښوونځي جوړ پرې

د ۲۰۱۰ زېږدیز کال له پیل څخه په د شاهین قول اردو په چوکاټ کې د ملي اردو د روزنې شپږ ښوونیز او روزنیز ښوونځي جوړ کړای شي

دغه څرګندونې د لیندۍ پر ۱۷مه، د بلخ ولایت په دهدادي ولسوالي کې د ۲۰۹ شاهین قول اردو د ښوونې او روزنې څانګې قوماندان تورنجنرال محمد امین کریم، د ۶۰۰ سرتېرو د فراغت د غونډې په ترڅ کې خبریالانو ته وکړې.

نومورې وویل، چې د ۲۰۱۰ زېږدیز کال له پیل څخه به د شاهین قول اردو په چوکاټ د ملي اردو د روزنې شپږ ښوونیز او روزنیز ښوونځي جوړ کړای شي.

د هغه په وینا، په دغو ښوونځیو کې به د پیاده، توپچي، زرهدار، مخابرې، انجنیري او نظامي پولیسو ښوونځي شامل وي.

تورن جنرال کریم وویل، چې دغه ښوونځي به ځانګړي تشکیلات ولري او د بېلا بېلو بهرنیو مرستندویو هېوادونو لخوا به ورسره هر اړخیزې مرستې وشي.

د شاهین د ښوونې او روزنې څانګې قوماندان د ۶۰۰ فارغ شویو سرتېرو په اړه وویل، چې دوی دوې نیمې میاشتې د اردو لومړنۍ زده کړې ترسره کړې.

نومورې زیاته کړه، چې دغه سرتېرې به تر درېیو میاشتو نورو زده کړو وروسته د هېواد بېلا بېلو ولایتونو ته د هېواد د امنیت په خاطر ولېږل شي.

د پژواک خبري اژانس د رپوټ له مخې، د فارغ شویو سرتېرو یو تن ۲۴ کلن واحد الله، د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالي اوسېدونکی، له خپلې دوې میاشتنۍ نظامي زده کړې څخه خوښ و. نومورې وویل، دی لېوالتیا لري چې کله به تر درېیو میاشتو نورو زده کړو وروسته، د هېواد کومې برخې ته د امنیت نیولو په موخه استول کېږي.

تورن جنرال کریم وویل، چې د نظامي زده کړو د نویو ښوونځیو پر جوړېدو سربېره، دوی په بېلا بېلو برخو کې ۲۰ نور فعال ښوونځي هم لري.

نومورې زیاته کړه، چې شاهین قول اردو تردې دمه ۳۰زره سرتېرې روزلي او د هېواد بېلا بېلو ولایتونو ته یې د امنیت په موخه استولي دي.

په افغانستان کې د هند ستراتېژي

داکتر ولي محمد عبدیاني



هندوستان په اسیایي هېوادونو کې د نفوس او د خاورې د مساحت له پلوه، یو ستر او شتمن هېواد ګڼل کېږي او د تاریخ په اوږدو کې هندوانو د اوښتا له زمانې را په دېخوا، دغې لوېې وچې د ښې بېلو مذهبونو، معتقداتو، کلتوري او فرهنګي او سلګونو ژبو په درلودلو سره، کله کله له بهرنیو سره په جګړه کې له خپلې خاورې نه په کلکه دفاع کړې او خپلو دښمنانو ته یې ماته ورکړې ده.

په هر حال، کله چې د انګلیس ښکېلاګرو د هند د اشغال او استعمار لپاره د هند لوېه وچه تر خپلې ولکې لاندې راوستله او تر ځلورو سونو کلونو زیاته یې پر هند حکمراني وکړه او تر هغه چې لا ردادکلنډ د انګلیس د وخت د دولت له خوا د هندوستان د ګورنرجنرال په توګه د چارو واګې تر لاسه کړې او د هند د هغه وخت د نیمه خپلواک حکومت د مرانجیت سنګ لخوا ورته هر کلی وویل شو او د سوغات په توګه انجیت سنګ دې ته د کوه نور الماس چې تل به د انجیت سنګه پر مټ ټرل شوی و، وسپاره.

په دې وخت کې امیر دوست محمدخان د افغانستان د ټولواک په توګه کار کاوه او ویې غوښتل، چې د پېښور ښار چې د افغانستان د خاورې یوه برخه وه، تر خپل واک او حاکمیت لاندې راولي.

انجیت سنګ د لا ردا کلنډ په دستور د پېښور له مشرانو سره وکتل او دوی یې وهڅول، چې له ده سره مرسته وکړي او پرې نږدې چې د پېښور ښار د افغانانو تر پوره واکمنې لاندې راولي.

نو کله چې امیر دوست محمدخان د پنجتنو له ملاتړه د انګرېزي حکومت له نماینده انجیت سنګ سره خبر شو، د پېښور له نیولو یې ډډه وکړه.

د هند واکمني تر هغه پورې د برېتانوي چارواکو په لاس کې وه، چې د هند ولس د مهاتما ګاندي په مشرۍ خپله واکمني او خپلواکي له لویې برېتانیا څخه تر لاسه کړه. د هند دولت تر خپلې ازادۍ وروسته له شپېتو کلونو څخه زیاته موده د هند د خلکو له ویاړ وړ مشر مهاتما ګاندي او نورو هندي مشرانو، لکه جواهر لعل نهرو او داسې نورو مشرانو له خوا د استقلال او ازادۍ نعمت د هند د خلکو په برخه شو.

په لومړي سرکې چې هندوستان له کومو ستونزو سره مخامخ شو، هغه د هند له خاورې څخه د پاکستان جلاکېدل او د یو اسلامي پاکستان جوړېدل و او هند ته تر هماغه لومړیو ختونو وروسته له خپلواکۍ څخه سیاسي، اجتماعي او اقتصادي او امنیتي ستونزې ور په غاړه شول او انګلسانو د پاکستان استقلال او خپلواکي هم په رسمیت و پېژنده او پاکستان ته یې خپلې مرستې ورسره زیاتوې.

د هندوستان حکومت تر خپل جوړښت را په دېخوا د افغانستان له پخوانیو دولتونو سره لږ او ډېرې مرستې کولې او تل هندوستان داغوښتل، چې په افغانستان کې یو حکومت موجود وي او د دواړو دولتونو ترمنځ ښه اړیکي موجود وي. له بلې خوا د هند حکومت غوښتل، چې په تېرو وختونو کې د افغانستان د وخت د حکومتونو په واسطه له پنجتنو ازادي غوښتونکو سره ډېرې زیاتې مادي مرستې وکړي، څو پنجتانه وکولای شي، چې خپله ازادي او خپلواکي له پاکستان څخه تر لاسه کړي او پاکستان نور هم پر څو برخو وویشل شي، خو د افغانستان د وخت حکومتونو هم په ډېره هوښیارۍ وغه غوښتل چې د هندوستان د لاس اله وګرځي او د منطقې یا سیمې نړیوال سیاست په رڼاکې یې خپله دوستي د هند له حکومت سره په یو تعادل کې وساتله، چې دغه تګلاره تر اوسه دوام لري.

د هندوستان حکومت غواړي، چې له بلې خوا د افغانستان په وړو لنډ مهاله پروژو کې ونډه واخلي او له اقتصادي پلوه له افغانانو سره مرسته وکړي او د افغانستان په بیا رغونه کې څه ناڅه برخه واخلي.

همدارنګه هند په فرهنګي او کلتوري چارو کې او د دیموکراسي په راوستلو او وده کې له افغانانو سره مرسته وکړي او تر نورو هېوادونو ښه برته پاتې نشي او خپلې مرستې ورځ تر بلې په تېره بیا په اقتصادي برخه کې د پروژو په جوړه ولو ډېرې هلې ځلې او پانګونه کوي، څو خپل شتون او دوستي په افغانستان کې تر پاکستان زیاته کړي او په دې توګه د دولت او د افغان اولس پام ځانته واړوي.

دا ټول د هند حکومت د هغې پالیسي یوه برخه ده، چې د لنډ مهاله ستراتېژۍ په هکله یې هند په افغانستان کې لري.

همدا راز د هند د اوږدې مودې ستراتېژي باید وخت حکومت وي له پاکستان څخه د خپلو عسکرو په لېږلو او مستقیمه مداخله له پاکستان څخه جلا او د بنګله دېش خپلواک حکومت یې جوړ کړ.

هندوستان په افغانستان کې دوه ډوله ستراتېژي لري، چې هم لنډ مهاله او هم اوږد مهاله.

د هند د دولت لنډ مهاله ستراتېژي او اهداف په افغانستان کې د افغان حکومت د پالیسي ملاتړ کول دي، په تېره بیا د هغه حکومت ملاتړ ډېر کوي، چې جوړ شوی افغان دولت د پاکستان پرضد یو دولت وي، نو هند په دې کار ډېر خوشحاله کېږي او خپلواکي ورکړله، چې د هند لپاره تر نن ورځې پورې ډېره یوه لویه ستونزه بلل کېږي سره له دې چې خپلواکي د پاکستان د خلکو حق و، خو د هندوستان د هغه وخت مشران او رهبران د پاکستان له جوړېدو نه خوښ نه وو او دا یې په راتلونکي کې د هند د خلکو او حکومت لپاره یوه لویه ستونزه په ګوته کوله.

خو انګلیسانو پاکستان ته خپلواکي ورکړله او په دې توګه د پاکستان جوړېدل د هند د یو ګاونډي په توګه هم د هندوستان لپاره او هم د افغانستان لپاره تر نن ورځې پورې یو لوی سرخوږی او ستونزه پاتې شو. او دا ځکه چې یوه برخه افغانستان د خاورې د ډیورنډ د تش په نامه کرښې په اساس له افغانستان څخه جلا او بېل شو او هم له هند سره د کشمیر په برخه لا اوس هم ستونزه شته.

د ډیورنډ د تش په نامه له کرښې سره پنجتانه پر دوو برخو ووېشل شول او لر او بر پنجتانه په دې توګه سره بېل شول.

د انګریزانو په دې کار سره د پنجتنو ازادي غوښتونکو مشرانو لکه خان عبدالغفارخان او خینو نورو پنجتنو مشرانو او افغانانو د ډیورنډ د تش په نامه کرښه په کلکه و غندله او ویې نه منله، خو انګرېزانو دا کرښه د سلو کلونو لپاره منلې وه او وروسته تر هغې افغانان په دې هکله خپل تصمیم او پرېکړه وکړي او د هند د هغه وخت حکومت هم له افغانانو سره د دغې کرښې د نه منلو په هکله خپل ملاتړ وښود.

اوس سره له دې چې د ډیورنډ له کرښې تر سلو کلونو هم زیاته موده کېږي، خو بیا هم د پنجتنو برخلیک روښانه نه دی او پاکستان د پنجتنو پرحق سترګې پټې کړې او خان یې غلی نیولی.

هندوستان له پاکستان سره څو واړې د کشمیر پر سر جګړه وکړه او په هر ځل د دوی د ښمنې لاهم زیاتې شوې او نن هم یو بل ته د دوښمنانو په سترګه ګوري.

او خپل خواکونه یې د یو بل سرحدونو او پولو ته د مقابلې لپاره لېږلي وي. چې دا په خپله یوه لویه بېلګه ده، چې هند او پاکستان سره په خپلو منځو کې ژور اختلافات لري.

له بلې خوا د هندوستان حکومت د ختیځ پاکستان خاوره له لوېدیځ پاکستان څخه د جلا کولو تجربه هم لري او په دې توګه یې وشو کولای، چې د بنګله دېش حکومت چې د هند یو

هر ارزښت لرونکی کار د ستایلو دی

ساحل بهیر

انټرنېټ د شلمې پېړۍ تر ټولو ښه، پرمختللې او ارزښتناکه ډالۍ ده، چې نن ورځ د ټولې نړۍ ډېرې اداري او دفتري چارې د انټرنېټ له لارې پر مخ ځي. نن ورځ د نړۍ هرې برخې ته په ډېره ارزانه او ورېښه کولای شو، چې لېک پرته له کومو ستونزو ولېږو او له خپلو دوستانو او خپلوانو سره د نړۍ په ډېرو لرې پرتو هېوادونو کې اوسېږي، پرته له کومې ستونزې وېډیویي خبرې وکړو او پرته له کومو ستونزو او ډېرې بېې ورسره خپل اسناد، لیکونه، انځورونه او نور مهم ځیزونه ولېږو. دا یوه ډېره پرمختللې تکنالوژي ده، چې نن ورځ د ژوند په ډېرو برخو کې ګټه تري اخیستل کېږي.

خو زمور په هېواد افغانستان کې چې په وروستیو کلونو کې یې رواج وموند او د مخابراتو وزارت له ستلایټ څخه تر لاسه شو، ډېر ګران او بېه یې ډېره لوړه وه، خو د مخابراتو هڅاند او تکړه سرپرست وزیر سنګین په دې برخه او همدارنګه د ټېلېفون په برخه کې ډېرې جدي هڅې وکړې، څو یې بېې ټیټې او هر هېوادوال ورته لاسرسی ولري. دا چې د مخابراتو وزارت د انټرنېټ د بیو د ټیټېدو لپاره له پاکستان سره د نوري پایېر د نښلولو په برخه کې د ارزښت وړ ټرون لاسلیک کړ، د ستایلو وړ دی. د افغانستان د مخابراتو سرپرست وزیر امیرزي سنګین ویلي، دا لومړی ځل دی، چې له ګاونډي هېواد پاکستان سره د تورخم له لارې د نوري فایبر مخابراتي اړیکي ټینګېږي.

ښاغلي سنګین زیاته کړه، د دې اړیکې له لارې به، د دواړو هېوادونو تر منځ پر ټېلېفوني او انټرنېټي اسانتیاوو سربېره، د سوداګرۍ، پانګې اچونې، تعلیم او ټرانزیټ په برخه کې هم پرمختګونه وشي.

ښاغلي سنګین وویل: "تر یو ډېر مهم ګام اخلو او له پاکستان سره د هېواد د نوري فایبر شبکه تړو. دا شبکه به د دواړو هېوادونو تر منځ ټېلېفوني او انټرنېټي ستونزې له منځه یوسي.

د ستلایټ له لارې یو میګابایټ په څلور زره ډالره و، خو مور له پاکستانه په شپږ سوه ډالره تر لاسه کړ. مور یې د افغانستان ټیلي کار له لارې خصوصي سرکټونو ته هم ورکولای شو."

ښاغلي سنګین زیاته کړه، د هېواد د نوري فایبر د شبکې کار دوه کاله مخکې د افغان ټیلي کام د اداري له خوا پیل شوی او تر اوسه یې اتیا په سلو کې پرمختګ کړی دی، له خدمتونو څخه یې د هېواد په اووه لسو ولایتونو او اته شپېته ښارونو کې ګټه اخیستل کېږي.

ده دا هم ویلي، د افغانستان او پاکستان ترمنځ به د نوري فایبر شبکه وکړای شي، چې د مخابراتي خدمتونو څرنګوالی ۳ مـــخ

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکې ننګه کوي، نوري لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشګر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : نبي "پیاوړی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com